دکتو درسید لپاره قانوني اجرات
IIدټولنیز امنیت مطابق کوډ دوهم ټوک (ایس جي بي

دهمکارۍ کولو اوعمومي لارښونو مجبوریتونه

II پرگراف۱ایس جي بي1
ابتدایي بیمه دهغو دندو غوښتونکولپاره ده کوم چي غواړي خپل دکټې لاسته راوړلو مسولیت پیاوړې کړي او دهغه خلکو لپاره کوم چي له دوي سره په محتاجه ټولنه کې اوسیږي او مرسته یي کیږي دوي کولې شي چي په خپل کوښښ او وسایلو دژوند کولو لپاره بغیر دبنیادي مرستو عاېد ولري دا باید د دندې وړ گڼه کونکو سره د دندې په پیداکولو او ساتلو کې مرسته وکړي او تر هغې پورې دژوند کولو ډاډ تر لاسه کړي تر څو چې هغوي نه وي توانیدلي چي دنورو وسایلو په مرسته ژوند برابر کړي. دنړیوالو قوانینو پر بنا باید له ښځو او سړو سره مساویانه معامله وشي.

II پرگراف۱ایس جي بي10
هره دنده د کار کونکو لپاره مناسبه ده تر څو چې یو شخص د فزیکي، دماغي یا د رواني علتونو په وجه د یوي خاصې دندې کولو وړتیا ولري.
د دندې سرته رسول به په پام سره په راتلونکې کې د دندې د تفوق مخنیوې وکړي څکه مخکنې دندې خاص فزیکي ستونزې لرلې، د دندې سرته رسول به د هغوي د ماشوم او یا د هغه دملگري دماشوم دروزنې مخنیوې وکړي، د هغه ماشوم په روزنه کې چي عمر یي ۳کاله پوره شوي وي عموما ستونزه نه پیداکیږي تر کومه یي چې روزونکې له وړکتون څخه په ورځ کې یو ځل ډاډ تر لاسه کوي، دڅارنې مسوله اداره باید وگوري چې دکارکونکو والدینو ماشوم ته په امتیازي ډول ځاي ورکړل شوې دې، د دندي سرته رسول د ماشوم د څارنې سره یو ځاي مناسبه نه ده او څارنه به په بله لاره د ډاډ وړ نه وي.
د دندې سر ته رسول د نورو مهمو کارونو سره هم ټکر رامنځ ته کوي

(اخیستنه) II ایس جي بي 31 §
د دندې وړ گڼه کونکې د لیکلې خبرتیا سره سره دقانوني ارزښتونو په اړه له خپلو مجبوریتونو تیرې کوي.

.1چې د یو ځاي کیدنې په تړون کي تشریح شوي دي یا د تاوان ورکونکې اداري له خوا د قانون د ۱۵ پرگراف د ۶ مادې له مخې په خاص ډول په زیاته اندازه د خپلو هڅو له زیاتوالي څخه انکار کوي،

.2دقبلولو نه وړاندې انکار، دهغوي په کړو وړو سره یوې مناسبې دندې ته ادامه ورکړي او یا یي مخنیوې وکړي، شاگردي، د دندې موقع د ۱٦ پرگراف مطابق د دندې مرستې او یا بسپنه،

.3په دنده کې د یووالي لپاره مناسب وسایل نه دي، ددې مخنیوې کوي او یا یي د مخنیوې لپاره دلیلونه ورکړي دي.

دا شونې نه ده که چیرته دنده کونکې حاضر وي او دهغوي د سلوک په اړه یو غټ دلیل وړاندې کړي.

د دندې کونکې له خوا د دندې پریښودل به داسې وگڼل شي که چیرته

.1هغه وروسته له اتلس کلنی څخه د هغه عاېد کم کړې دې یا یې دقانوني حالت سره سم په په قصدي ډول داسې حالات رامنځ ته کړي وي چې د بې دندیتوب گټې زیاتې کړي

.2د لیکلې خبرتیا سره بیا هم دقانوني ارزښتونو په اړه بې احتیاطه کړو وړو ته ادامه ورکوي یا ددې پوهه،

.3دبې دندیتوب دمرستو لپاره دغوښتنه ځنډول شوې او یا منع شوې ده څکه چې د دندو اداري ته د وخت د بې کاره تیرولو پیښه څرگنده شوې ده او یا ددغې غوښتنې مخنیوې د دریم جلد پر بنا دې یا

.4هغه داسې حالات رامنځ ته کوي کوم چې په دریم جلد کې یي یادونه وشوه د بې کاره وخت تیرولو د پیښې لپاره چې د بې دندیتوب دگټې د لاسته راوړلو د ځنډیدنې او یامخنیوې سبب کیږي.

(اخیستنه) II ایس جي بي 31a §
د دندې پریښودلو په حالت کې د ۳۱ مطابق به د مربوطه شرط له مخې به په لومړې قدم کې د کارکونکې د بې دندیتوب گټې دیرش سلنې ته راښکته شي په تکراري ډول سره د دندې پریښودلو په حالت کې د ۳۱ مطابق به د

مربوطه شرط له مخې به په لومړي قدم کې د کارکونکې د بې دندیتوب ګټې شپیته سلنې ته راښکته شي د دندې پریښودلو په هر ځل تکراري حالت کر به د ۳۱ مطابق به دبې دندیتوب ګټې به په پوره توګه وځنډول شي.

**(اخیستنه) II ایس جي بي 32 §**
که چیرته ګټه کونکې ونتوانیږي چې د لیک2لې خبرتیا سره بیاهم د قانونې ارزښتونو په اړه او یا د مسولې اداري دغوښتنې له پوهي سره هغه ته رپورټ ورکړي او یا په طبې او رواني معاینو کې ښکاره شي، د ۲۰ مطابق به په یو وخت کې د مربوطه معیاري اړتیا سره سم به د بې دندیتوب ګټې یا د ټولنیز امنیت ګټې لس سلنې ته راښکته شي. دا شونې نه ده که چیرته دنده کونکې حاضر وي او دهغوي د سلوک په اړه یو غټ دلیل وړاندې کړي.

**II ایس جي بي 34 §**
هغه کس څوک چې د اتلس کلنې نه وروسته دخپل ځان لپاره او یا دهغه شخص لپاره چې له ده سره په محتاجه ټولنه کي اوسیږي په قصدي توګه او یا دسستۍ له امله داسې حالات منځ ته راوړي چې بغیر له غټ عذر نه ګټې تر لاسه کوي، مجبوردې چې ددغو ورکړل شویو ګټو تاوان ورکړي. د تاوان دغه غوښتنه هغه مرستې چې د روغتیا بیمې، دتقاعد بیمې او د وړکتون بیمې په برخه کې شوې هم شاملوي دتاوان له دغې غوښتنې څخه باید ځان ساتنه وشي ځکه دا د تشدد څرګندوالې کوي.

**د 60 § پرګراف د اول ټوک ټولنیز حفاظتی کوډ /( ایس جی بی( I**
هغه کس چاچې د دندې دګټو ترلاسه کولو لپاره غوښتنه کړې ده او یا بې ترلاسه کړي دي باید

۱. دګټو مربوط ټول معلومات برابر کړي او باید دټولو هغو معلوماتو سره چې دپیسو ورکولو د مسولې اداري له خوا ددریم کس په واسطه ښودل کیږي موافق وي،

۲. دګټو په تناسب کې تغیر کوم چې په قانونې ډول سره اعلان شوې وې به بغیر له کوم ځنډ نه وڅیړل شي.

۳. مستند دلایل به وښودل شي او د پیسو ورکولو د مسولې اداري په غوښتنه به د سترګو لیدلي لاسوندونه هم وړاندې شي او یا ددې دنمونې تصدیق به وشي.

**د 66 § پرګراف د اول ټوک ټولنیز حفاظتی کوډ /( ایس جی بی( I**
هغه کس چې د ټولنیزو ګټو لپاره عریضه ورکوي او ګټې تر لاسه کوي.چې دخپلې دندې د ٦٠ په همکارۍ کولو قانع نه وي او دې ته په پام سره د معلوماتو څرګندوالې نور هم پیچیده کوي کیدلي شي له ګټو څخه په مکمله توګه او یا یوه اندازه محروم شي تر څو چې مرسته نه وي تر لاسه شوي، تر هغې چې د ګټو لپاره د بودیجې د اداري له خوا د نورو پلټنو وروسته حالت یقیني شوي نه وي. دا شونی ده که چیرته عریضه کونکې یا ګټه کونکې په قصدي ډول سره دمعلوماتو څرنګوالې په مختلفو لارو پیچیده کوي.

**جنایي کوډ (ایس ټي جي بي) -اخیستنه-263 §**

(۱) هغه کس چې د بل چا جایداد ددې لپاره تخریبوي چې په غیر قانونې توګه د لمسونې یا د دهوکه بازۍ او د معلوماتو پټونې له لارې مال تر لاسه کړي، به د ٥ کلونو لپاره په قید محکوم شي او یا به جریمه شي.

(۲) دغه سزا به محکوم ته د دعوه ګیر له خوا ورکول کیږي.

(۳) د تشدد په خاصو پیښنو کې د قید سزا د یو نه تر لسو کلونو پورې کیدلې شي.

**دکورنې د ګټو قانون (ډبلیو او جي جي) 1 §**
دایس جي بي مطابق د ګټو تر لاسه کونکي او د ایس جي بيXII مطا بق دهغه چا لپاره چې د کور قیمت یې په پام کې نیول شوې او په محاسبه کې د کور د ګټې تر عنوان لاندې نه دې. دکور دګټې دقانون (ډبلیو او جي جي) مطابق د ګټو تر لاسه کونکې د سرچپه دلیل له مخې د ایس جي بي۲ او ایس جي بي د ګټو لاندې نه دي یاد شوي

**عمومي:**

**ضروري عريضه/د ورکړي دوره**
د ایس جي بي مطابق ګټې عموما په عریضه ورکول کیږي د ګټې د ورکړې دوره د ورکړې په دوره کې تسلیمیږي کوم چې په رسمي لیک کې یي پر یکړه کیږي. ددوامداره پیسو عریضه به مخکې د وخت له تېریدو نه په وخت په کتار کې کینښودل شي. ګچیرته وړ عرېضه په کتار کې کینښودل شي، د ورکړې له دورې د تیریدو نه وروسته به ګټې نه ورکول کیږي. مونږ غواړو چې تاته اشاره درکړو چې د وخت له دغې نقطې نه وروسته مونږ د روغتیا د بیمې، د تقاعد دبیمې او د وړکتون د بیمې مرستې نه ورکوو. د روغتیا د بیمې ډاډ به ستا له خوا نه وي. کچیرته ته د دوامداره پیسو عریضه ترلاسه نکړې، مهربانې وکړه د ګټو د مسول مامور سره اړیکې ټینګې کړه.

**دمعیاري اړتیاو لپاره لاربښوونې**
په معیاري اړتیاو کې ټول جاري او د یو وخت اړتیاوې شاملې دي. ددې مطلب دا ده چې ددې اړتیاو څخه پرته به نورې ګټې نه ورکول کیږي. معیاري اړتیا دغه لاندې شیان شاملوي.

غذا، مفت شراب، جامې، بوټان، کور(بغیر له کرایه)، قدرت او دکور ساتنه، داخلي ډیزاین، دکور سامان او اسباب، د روغتیا پاملرنه، ترانسپورت، تلفون، ساعت تیري، تفریح، کلتور،د ریستورانت او د لنډې مودې دخدمتونو برابرول، نور شیان او خدمتونه.

مهرباني وکړه په پام کې ولره چې ته له دغو مرستو پرته نورې مرستې نشې تر لاسه کولې،

**قانوني حالت:**
که چیرته ته او یا یو کس یا کسان چې له تا سره په اړه ټولنه کې اوسیږي او قانوني مال لري نو ته مجبور یي چې د دندې غوښتونکو د بنیادي مرستو اداري ته په دې اړه خبر ورکړې او مرسته کونکې اسناد هم ورته وسپارې.
دقانون له مخې مونږ ویلې شو که معاف کیدنه له دغې لاندې اندازې څخه زیاته وي نو قانوني مال وجود لري.

| دمعاف کیدني اندازه 17.04.2010 | | | |
|---|---|---|---|
| **دمعاف کیدني تر ټولو زیاته اندازه** | **دمعاف کیدني تر ټولو کمه اندازه** | **دمعاف کیدني اندازه د عمر کلونه** | **دمعاف کیدني داندازې نوعه** |
| په هر حال کې* 9.750,00 €<br>دهغو کسانو لپاره چې د۱.۱.۱۹۵۸ نه مخکې زیږیدلي وي | په هر حال کې 3.100,00 € | 150,00 € | دمعاف کیدني بنیادي اندازه |
| په هر حال کې 33.800,00 € | په هر حال کې 3.100,00 € | 520,00 € | دهغو کسانو لپاره چې د۱.۱.۱۹۵۸ نه مخکې زیږیدلي وي دمعاف کیدني اندازه زیاته شوه. |
| | | په پوره توګه محفوظ دي | حکومت دشخصي تقاعد سره مالي مرسته کوي |
| په هر حال کې 48,750.00 € **<br>دهغو کسانو لپاره چې د۱.۱.۱۹۵۸ نه مخکې زیږیدلي وي | بغیر له | 750,00 € | د زاړه عمر نورې زیرمې |
| **دمعاف کیدني تر ټولو لوړه اندازه زیاته شوه** | **غریبه ټولنه** | **دمعاف کیدني اندازه یو کس ته** | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | € 750,00 | دضروري معلوماتو لپاره |

دهغو کسانو لپاره چي د ۳۱.۱۲.۱۹۵۷ نه وروسته او د ۰۱.۰۱.۱۹۶۴ نه مخکي زيږيدلي ۹۹۰۰.۰۰ يورو. دهغو کسانو لپاره چي د ۳۱.۱۲.۱۹۶۳ نه وروسته زيږيدلي وي د معاف کيدني اندازه ۱۰،۵۰۰.۰۰ يورو ته لوړه شوه.

دهغو کسانو لپاره چي د ۳۱.۱۲.۱۹۵۷ نه وروسته او د ۱.۱.۱۹۶۴ نه مخکي زيږيدلي وي د معاف کيدني تر ټولو لوړه اندازه او د زاړه عمر نوري زيرمې اومالي مرستي ۴۹،۵۰۰.۰۰ يورو ته زياتيږي. دهغو کسانو لپاره چي د ۳۱.۱۲.۱۹۶۳ نه وروسته زيږيدلي دغه اندازه ۵۰،۲۵۰.۰۰ ته لوړه شوه.

نوټ:
- ټولې لومړنې دمعاف کيدنې مرستې چې پورته وښودل شوې د ګټه کونکو او يا دهغوي د پوره عمر ملګرو ته ورکول کيدونکي دي.
- د لومړنيو معلوماتو د ۷۵۰ يورو د معاف کيدنې لومړنې اندازه هر ګټه کونکي ته چې په غريبه ټولنه کې اوسيږي ورکول کيږي.

اضافه مراعاتونه:
- دګټو تر عنون لاندې د هر ماشوم لپاره ۳۱۰۰ يورو لومړنې مرستې.
- مالي غوښتنې، دتقاعد پر بنا، تر دې چې د تقاعد لومړنې اخستونکې هم د يو تړون له مخي له دې څخه ګټه نده تر لاسه کړې او ددغې مالې غوښتنې ارزښت د کار وړ شخص لپاره د مصرف د عمر له مخې په اړتيا کې ۷۵۰ يورو ده او دهغه ملګري ته تر ټولو زياته ۴۸۷۵۰.۰۰ يورو او يا کمه. د هغو کسانو لپاره چي د ۳۱.۱۲.۱۹۵۷ نه وروسته او د ۱.۱.۱۹۶۴ نيټې نه مخکې زيږيدلې وي د تر ټولو زيات د مراعات د تقاعد پيسې او نورې مالي غوښتنې به ۴۹۵۰۰.۰۰ يورو ته لوړي شي. هغه کسان چې د ۳۱.۱۲.۱۹۶۳ نه وروسته زيږيدلي وي دغه اندازه ۵۰۲۵۰.۰۰ يورو ته زياته شوه.

دمال په حيث به دا اکاونټ ته نه وړل کيږي:
- دکورمناسب سامان او لوازم
- دټولنې د هر کس لپاره مناسب موټر څوک يې چې حقدار وي.
- دفدرالي قانون له مخې د تقاعد پيسې په ښکاره ډول د تقاعد له بوديجې څخه دي، ددې د عايد په شمول او دتقاعد د پيسو اوسنۍ مرستې (رايستر د تقاعد پيسې، رورپ د تقاعد پيسې، د کمپنۍ تقاعد پيسې).
- د تقاعد دځښتن لپاره معلوم مال لکه څنګه چې وښودل شو،که چېرته دغه کس او يا يې ملګرې اړتيا ولري داجباري بيمې څخه ازاد دي .
- دتقاعد په قانونې بيمه کېد کافي پراخوالي د کور جايداد او يو مناسب کورګی چې خپله يې نيولې وي،
- جايداد،ډېر زر به په نظر کې ونيول شي چې دمناسب پراخوالي کور تر لاسه شي، دا به يوازې د اوسيدنې لپاره وي او يا به د معيوب او په نورو پورې تړليو خلکو په خدمت کې وي، له دغه جايداد څخه ددې مقصد لپاره دکار اخيستني او خدمت کولو په بدل کې به جوړجاړې رامنځ ته شي.
- جايداد او حقوق، کچېرته له دوې څخه کار اخيستنه په ښکاره ډول سره غير اقتصادي وي يا دغه وسايل مربوطه کس ته ستونزمن وي. داوسيدلو د مناسبو شرايطو د برابرولو لپاره ، په داسې حال کې چې د ددندې غوښتونکو لومړنې مرستې هم تر لاسه کوي

**دخاصو هدفونو لپاره دګټو استعمالول**
کچیرته  ته د قانون ایښودونکې ډلې له خوا د خاص استعمال لپاره مرستې ترلاسه کوې د مثال په توګه ( د اوسیدلو قیمت،د پخلي قیمت،) ته مجبوره یي چې دغه مرستې د همدې هدف لپاره استعمال کړې. که نه نو د 47 §  د ایس جي بي مطابق د  50 § ایس جي بي سره یو ځاې د مرستو راګرځونه شونی ده.

**د روغتون او وړکتون پاملرنه**
د بې روزګارې د مرستو د تر لاسه کولو په دوران کې ته باید د رغتیا د پاملرنې قانوني بیمه ولرې او یا تر څو دغه بیمه د کورنې دبیمې د تګلارې لاندې تا لپاره ممکنه وي، یا په شخصي توګه په لومړیو کې د بې روزګاري د مرستو سره بیمه شوي یي.
دروغتیا او پاملرنې د بیمې پیسې په قانونې توګه د روغتیا د بودیجې څخه ورکول کیږې. کچیرته خدمتونه د قرض یا د ځانګړې ګټې په شکل ورکول کیږي نو بیمه اجباري نه ده.
 **II ایس جي بي** که چیرته ته د بې دندیتوب د مرستو ترلاسه کولو له خوا په اجباري توګه بیمه شوې یې، بیمه ورکونکې به تا په ابتدا کې د روغتیا د بیمې له کمپنې سره راجستر کړي له کوم سره چې ته د مرجع مطابق په لومړیو کې بیمه شوي یي.
تا ته به هغه وخت ډاډ درکړل شي چي تړون به هم لاسلیک شوي وي، د مرستو د تر لاسه کولو له لومړي ورځې څخه به دغه تړون په سم ډول شروع شي.

**د ټکر کولو بیمه**
کچیرته ته د ټکر کولو بیمه ولري، ته اړتیا لرې چي د بیمه ورکونک په خاصه غوښتنه  له هغه سره په ځانګړي ځاې کې وګورې. ته باید په لړ مخت کر بیمه ورکونکې ته ټکر وښایې.

**د تقاعد پیسې**
د بي روزګارتیا د مرستو د تر لاسه کولو په دوران کې ستا د کریډیټ ساعتونو راپور د تقاعد په بیمه کې ورکول کیږي.  دا د شاګردانو، د ټولنیزو مرستو تر لاسه کونکو او د هغو کسانو په برخه کې چې د یو وخت مرستې او یا مرستې د قرض په شکل تر لاسه کوي د پلی کیدو وړ نه دې.
کچیرته ته د مرستو اړتیا لرې او د بې روزګارې مرستې نه تر لاسه کوې او غواړې چې بې دندې شې، مهربانې وکړه زر تر زره خپل ځان په محلې د دندې په اداره کې ځان بې دندې ثبت کړه. دا به د هر قانونې ستونزې مخنیوې وکړې؟

**محلې نشتوالې**
ټول هغه ګټه کونکې څوک چې نه دنده لري او نه اقدام کوي، کولې شي چي په کال کې بغیر د مرستو له کموالې په کال کې ۲۱ ورځې غیر حاضري وکړي. اګر چې دا په هغه وخت کې پلې کیږي کچیرته دغه اندازه دمحلي غیر حاضري چې مخکې ورکړل شوې د مامورینو د نماینده له خوا معطل شوې یا منع شوي نه وي، کچیرته دغه ترتیب شوي غیرحاضري د لومړي ورځې د بې واکه غیر حاضرې څخه د ۲۱ ورځو نه زیاتې شي،         دمحلې طاقت جوړونه په کې شامله ده. د بې دندیتوب دوامداره مرستو تر لاسه کول  د دوباره  ثبت نام کولو نه وروسته د شخصي تړون له مخې ممکنه ده.

دا دهغو کسانو لپاره چې عمر یي  ۵۸ کاله وي او د کار کولو وړ نه وي نه تطبقیږي.  ایس جي بي۴ II دغه شخص به کیدې شي **چې د ۱۷ اونیو لپاره د اوسیدنې** له معمول ځاې څخه لرې اوسیږي په داسې حال کې چې مرستي به تر لاسه کوي. مخکینې ښودنه اړینه ده

**ناروغي**
که چیرته ته د کارکولو وړ نه یي، ته باید ستا دشخصي اړیکو کس ته د څنډېدلو په اړه ووایي. په وروستیو کې، د دریمې ورځې دختمیدو نه مخکې اود معیوبتوب نه وروسته، کچیرته یي مخکې غوښتنه شوې وه، ته باید له خپل ډاکټر څخه ستا د معیوبتوب په اړه سند هم تسلیم کړې ځا چې په لومړې ورځ هم ددغې مرض په اړه سند ورکړې وو. د غوښتنې پر بنا ته باید صحي سند هم تسلیم کړې.

د مرض په وجه په بل ځاي کې د محلې غیر حاضري تیرول، ددې لپاره چې خپلې غوښتنې بیرته تر لاسه کړې، باید دلاندې ټکو پاملرنه وشي.

- د معیوبتوب سند باید زر تر زره جوړ شي تر څو د روغتیا بیمه ورته برابره شي.
- د شخصي اړیکو کس باید زر تر زره په پیل کې خبر شي او د معیوبتوب په جریان کې هم خبر وساتل شي.
- تسلیم شوې سند له ډاکټر څخه باید معیوبتوب په ښه ډول روښانه کړي. د یو مرض لپاره یو سند بس نه دې.

تر لاسه کونکې، څوک چې له مخکې نه په یو بوختیا کې، د کار په موقع کې او یا د تجربې دلاسته راوړلو په دوره کې دې هم باید د مرض د لومړي ورځې نه د هغوي دمرض په ثبت کولو سره مبارزه وکړي او دقوانینو پرځاي کونه
د وړونکې او کار کونکې.

**اکاونټ ته دلاس رسي طریقه**
د ۲۳ دسمبر ۲۰۰۳ چې له مخې يې د مالیي زیاتوالې منل شوې دي د ۱ اپریل ۲۰۰۵ څخه راپدیخوا د مالیي چاروالکو او نورو خاصو چاروالکو، ددې امکانات چې د لست ابتدایي معلومات بیا پیدا کړي او مجموعه د فدرالي مرکزي بانک د مالیي په دفتر کي کیږدي( فدرالي مرکزي د مالیي دفتر) د اکاونټ خلاصولو د پروسې قانونې شرایط د ۱۴ اگست ۲۰۰۸ د تجارت د مالیي په اصلاحاتو کې تشریح شوي دي (I S 1912 دقانون په حیث

د اکاونټ معلوماتو ته اتوماتیک لاس رسې په ۹۳ تر ۱۰ او په ۷ برخه کې برابر شوي دي.
د مالیي کوډ (اې او) 93b § په ۱.۲.۲۰۰۹ نورې پروژې په شمول د مالیي د کوډ د قبلونې (ای- اې ای- او) د قانون په حیث .

مونږ د ۹۳ بر خې مطابق دیته اشاره کوو. دمالیي کوډ (اې او) ۹، کچیرته اړتیا وي مونږ به دغه لاره پلي کړو.

**تسلیمېدنه**
زه له دې سره موافق یو چې د ویس بیډن په دولتي پانگه کې ، د دندې مرکز، د وظیفه لټوونکیو له پاره اساسي تامین ( د ایس جي بي لاندې د گټو اخستونکي) دغه موضوع ۵۱.۵۰۰۱۰۱ ( وړونکي د ایس جي بي مطابق ) د ایس جي بي لاندي زما د عریضې یوه کاپي دمرستو لپاره برابروي، وروستني د اداري پریکړه، دجلبوني خبرتیا او طبي نظریه.

زه د شخصي معلوماتو لکه د ادرس، د کار پس منظر او د اوسیدنې ستونزې له انتقال سره موافق یم تر څو له رخصتې نه بیرته راستنیدنه کې دبرخې اخیستلو لپاره مرسته وکړي.

زه د جریمې د ډیري یا دیرش سلنې له کموالې څخه خبر شوې ووم، د سیمې ټولنیز کار د ټولنیز کار د دفتر له خوا خبر شوې دي، کچیرته دا دکم عمر ماشومانو د عمر په اړه وي

**زه په خپل لاسلیک سره ددې تصدیق کوم چې ما ته دوسیه ورسیده او زه د تسلیمیدنې له فارم سره موافق یم**

ویس بیډن

________________________________
لاسلیک

LANDESHAUPTSTADT

WIESBADEN

**ویزبادن، د هیسین د ایالت مرکز**
**د بنسټیز امن او کډوالو اداره**

**د اروپايي ټولنې د معلوماتو د خوندیتوب د مقررې (DSGVO) د ۱۳ او ۱۴ مادو په باب تشریحات**

د لاندنیو معلوماتو په وړاندې کولو سره مونږ غواړو ستاسو د شخص په اړه د معلوماتو د پروسس په باب چې زمونږ له خوا ترسره کیږي او د معلوماتو د خوندیتوب د حقونو له مخې ستاسو د حقونو په باب توضیحات درکړو. د دغو معلوماتو د راټولولو او پروسس موخه داده چې مونږ وکولای شو ستاسو سره د المان د دویم ټولنیز قانون (SGB II) پر اساس مرستې وکړو.

**1 . د معلوماتو د کارولو مسؤله اداره**

د هیسین د ایالت مرکز ویزبادن
مګیسترات (د ښار عالی شورا)
کنرادینر الې ۱۱، ۶۵۱۸۹ ویزبادن

Landeshauptstadt Wiesbaden
Der Magistrat
Sozialleistungs- und Jobcenter
Konradinerallee 11, 65189 Wiesbaden

**2 . د معلوماتو د خوندیتوب رسمی مامور**

د معلوماتو د خوندیتوب مامور
د هیسین د ایالت مرکز ویزبادن
پوستی شمیره: ۳۹۲۰؛ ۶۵۰۲۹ ویزبادن

Datenschutzbeauftragter der
Landeshauptstadt Wiesbaden,
Postfach 3920; 65029 Wiesbaden

**3 . د معلوماتو د کارولو حقوقي بنسټ**

د بنسټیز امن او کډوالو اداره ستاسو معلومات کاروي تر څو چې د دویم ټولنیز قانون (SGB II) له مخې ستاسو لپاره د مرستو حق تثبیت کړي او د استحقاق په صورت کې دا مرستې درکړي. ستاسو د معلوماتو راټولول او کارول په اړونده اړینو معلوماتو پورې محددو دي. د معلوماتو د کارولو حقوقي بنسټ د لومړي ټولنیز قانون (SGB I) د ۳۵مې مادې، د لسم ټولنیز قانون (دټولنیزې اداري کړنلاره او د ټولنیزو معلوماتو خوندیتوب - SGB X) د ۶۷ مادې ، د دوهم ټولنیز قانون (SGB II) د ۵۰مې مادې او همداراز د ځانګړیو قانوني مقرراتو په تړاو د اروپايي ټولنې د معلوماتو د خوندیتوب د مقررې (DSGVO) د ۶مې مادې د لومړۍ فقرې د دریم او پنځم بند او همدازار د ۹مې مادې د ۲یمې فقرې د دوهم بند د یوې حقوقي دندې یا مکلفیت ترسره کول دي.

که مونږ په څرنګده توګه ستاسو څخه د معلوماتو د کارولو د رضایت غوښتنه کوو، ددې غوښتنې حقوقي بنسټ د لسم ټولنیز قانون (SGB X) د ۶۷ مادې د ۲یمې فقرې په تړاو د د اروپايي ټولنې د معلوماتو د خوندیتوب د مقررې (DSGVO) د ۶مې مادې د لومړۍ فقرې لومړی بند او همداراز د ۹مې مادې د ۲یمې فقرې لومړۍ بند دی.

## 4 . د شخصي معلوماتو ډولونه

لاندې شخصي معلومات د بنسټيز امن او کډوالو په اداره کې د قانوني دستور او حقوقي بنسټ له مخې راټولیدلای او کارول کیدلای شي:

**بنسټیز معلومات**

د مشتري شمیره، د اړتیا د ټولنې شمیره، کورنی نوم، نوم، د زیږیدلو نیټه، د زیږدیدلو ځای، د زیږدې نوم، پته، تابعیت، مدني حالت، جنس، د مالیې هویت، د استوګنې وضعیت، د CNP/PKZ شمیره، د سپارنې شمیره او نیټه، د AZR شمیره، د تقاعد او ټولنیزې بیمې شمیره، د پالنې درجه، د معیوبیت درجه او نښه، د ټلیفون شمیره (اختیاري)، برښنالیک (اختیاری)، بانکي حساب جزئیات

**نور ممکن شخصي معلومات:**

د استحقاق د اعتبار موده، د مرستې اندازه، د مرستې ډولونه، د عایداتو او شتمنیو په اړه معلومات، د کار د مودې او پای او د کار د ادارې په باب معلومات، د معیشت یا حقوقي ادعاګانو په اړه معلومات، د قضایي حکم د پلی کولو معلومات، د عامه نظم د سرغړونو د قانون (OWiG) له مخې د جزایي اجراآتو په اړه معلومات، د کرایې او د استوګنې او تودوخې د اړتیاوو په اړه معلومات، د روغتیایي او پاملرنې د بیمې او د تقاعد بیمې په اړه معلومات، د قانوني پاملرنې / پالنې او ساتنې په اړه د روغتیا معلومات، د ترلاسه شویو ټولنیزو مرستو په اړه معلومات، د کورنې وضعیت په اړه معلومات، د شخصي وضعیت په اړه معلومات (ژوندلیک)، ښوونځي ته د تللو او فراغت سندونه

## 5 . نورو مراجعو ته د شخصي معلوماتو ورکول او د معلوماتو راټولول

شخصي معلومات یوازې د قانوني واکونو او مقرراتو پر بنسټ (په ځانګړې توګه د معلوماتو د خوندیتوب په اړه د لسم ټولنیز قانون (SGB X) د احکامو پر بنا) د مثال په توګه لاندې دریمو مراجعو ته ورکول کیږي: نورې د ټولنیزو مرستو ادارې (د مثال په توګه د المان د تقاعد بیمه، د روغتیا او پالنې بیمه)، د کار فدرالي اداره، د مالیې ادارې، ګمرکي ادارې، د جزایي تعقیب ادارې او د خطر د دفاع ادارې (د بیلګې په توګه پولیس، څارنوالي او ملي امنیت ادارې)، محکمې، نور دریم مراجع لکه د ولسوالیو ښاروالی، د دارمشتاد حکومتي ریاست، د هیسن ایالت د ټولنیزو چارو او ادغام وزارت، د کار او ټولنیزو چارو فدراله اداره، د مالیې مرکزي اداره، د مهاجرت او کډوالو فدرالي اداره، د محاسباتو فدرال دیوان، د هیسین د ایالت او مرکز ویزبادن نورې څیړنیزې ادارې، د دستور پلی کوونکی (د مثال په توګه د آي ټي چوپړ وړاندې کوونکی)، د کور څښتن (کله چې هغه ته په مستقیمه توګه پیسې تادیه کیږي)، د انرژی برابروونکی (کله چې هغه ته په مستقیمه توګه پیسې تادیه کیږي)، د پوره وړې ته د سلامشورې مرجع (یوازې د اړونده شخص د هوکړې په صورت کې)، د اعتیاد په اړه د سلامشورې مرجع (یوازې د اړونده شخص د هوکړې په صورت کې)، رواني ټولنیزه پالنه (یوازې د اړونده شخص د هوکړې په صورت کې).

د شخصي معلوماتو راټولول اساساً د اړونده شخص له لارې صورت مومي. که چیرې حقوقي دلایل یا د شخص هوکړه شتون ولري، کیدای شي چې دا معلومات د دریمو دولتي مراجعو لکه نورو ټولنیزو مرستو د ادارو څخه راټول شي.

## 6. د معلوماتو د خوندي کولو موده

د معلوماتو د ساتلو موده د بیلابیلو قوانینو د ساتلو د مودې سره سم ټاکل کیږي. دا موده د تادیي د معلوماتو په اړه قاعدتاً ۱۰ کاله ده خو کیدای شي په یو شمیر مواردو کې د مرستي د پای نه وروسته تر ۳۰ کلونو پورې هم دوام ومومي.

## 7. ستاسو حقونه

مونږ دلته په څرګنده توګه تاسو ته د ټولو کارول شویو شخصي معلوماتو په اړه ستاسو د معلومات اخیستني، لاسرسی، له منځه وړني، کاروني د محدودوني، د معلوماتو د لیږد د وړتیا او اعتراض حق ته اشاره کوو. د دې کار دپاره حقوق بنسټ د لسم ټولنیز قانون (SGB X) د ۸۱، ۸۳ او ۸۴ مادو په تړاو د اروپایي ټولني د معلوماتو د خوندیتوب د مقررې (DSGVO) ۱۵ – ۲۱ مادې دي.

که چیرې تاسي شخصي معلومات نه چمتو کوئ یا د هغو په کاروني باندې اعتراض لرئ، کیدای شي چې دا کار ستاسو لپاره د حقوقي زیان په مانا وي، لکه د مثال په توګه د قانوني حقونو له لاسه ورکول. اتفاقاً دا کیدای شي په هغه صورت کې هم وي کله چې تاسي د معلوماتو د کارولو په هکله خپله هوکړه بیرته واخلی (د اروپایي ټولني د معلوماتو د خوندیتوب د مقررې (DSGVO) د ۱۳مې مادې د ۲یمې فقرې دریم او پنځم بندونه).

## 8. د هیس‌ی‌ن د ایالت د معلوماتو د خوندیتوب مسئول

تاسي حق لرئ چې خپل شکایتونه د هیسن د ایالت د معولوماتو د خوندیتوب مسئول شخص ته وړاندې کړئ. د هغه پته په لاندې توګه ده:

د هیسین د ایالت د معلوماتو د خوندیتوب او د اطلاعاتو د آزادی مسئول
پوستي بکس: ۳۱۶۳؛ ۶۵۰۲۱ ویزبادن

Der Hessische Beauftragte für
Datenschutz und Informationsfreiheit
Postfach 3163; 65021 Wiesbaden